AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباری جهانی
۲۰۲۳/۰۳/۰۲

# وهابيان څوک دي؟

## څلورمه برخه

### حسين او يزيد:

معاويه له شل کاله خلافت څخه وروسته، چې د اسلام د فتوحاتو طلايي دوران يې بللای سو، په ۶۸۰ ميلادي کال کې وفات سو. له وفات څخه مخکې يې خپل زوی يزيد د وليعهد په توګه وټاکی او له خلکو څخه يې بيعت ورته واخيست. امام حسين، عبدالله بن زبيربن عوام او ځينو نورو کسانو د هغه له ولايت عهدی سره مخالفت وکړ خو د معاويه سره د چا زور نه رسېدی. د معاويه له وفات څخه وروسته، يزيد له حسين او عبدالله بن زبير څخه، چې په مدينه کې اوسېدل، د بيعت کولو غوښتنه وکړه. هغوی دواړو د بيعت ورکولو څخه انکار وکړ او شپه په شپه مکې مکرمې ته په پټه ولاړل.
په لاره کې عبدالله بن عمر، چې په ژوند کې تر مرګه، د خپل پلار په څېر په پرهېزګاري مشهور وو، ورسره مخامخ سو او پوښتنه يې ورڅخه وکړه چې څه خبره ده؟ دوی ورته وويل چې معاويه مړ سوی دی او يزيد زموږ څخه د بيعت غوښتنه کړې ده خو موږ له هغه سره بيعت نه کوو. عبدالله بن عمر ورته وويل له خدايه وبېرېږی په اسلام کې نفاق مه اچوی. عبدالله بن عمر مدينې ته ولاړ او هلته يې د يزيد سره بيعت وکړ. څو ورځې وروسته عبدالله بن عباس هم بيعت وکړ. طبري، تاريخ طبری ص ۲۹۱۲
لږه موده وروسته له کوفې څخه شيعه يا د حسين طرفدارانو حسين ته يو مکتوب ولېږی او هغه ته يې بلنه ورکړه چې کوفې ته ورسي او دوی به په لس هاوو زره ورسره ملګری سي او د يزيد او د هغه له حاکمانو څخه به يې وژغوري. حسين په دې برخه کې د هيچ چا پر مشوره غوږ ونه نيوی او خپل د کاکا زوی مسلم بن عقيل يې کوفې ته واستاوه چې د ده له طرفدارانو سره خبري وکړي او وروسته به دی پخپله هم پسي ورسي. د يزيد نوی حاکم، عبيدالله بن زياد، د مسلم بن عقيل له ورتګ څخه خبر سو او ډېر ژر يې ونيوی او ويې واژه. حسين د هغه له مرګه خبر نه سو او له مکې څخه يې د کوفې پرلور حرکت وکړ.
په مکه مکرمه کې د يزيد له لوري حاکم عمروبن سعيد، حسين ته وليکل چې د عراق خواته مه ځه. بېرېږم چې تاوان درته ونه رسيږي. په مکه کې زما سره په امان يې او ستا سره به ښه سلوک کوم او احترام به دې ساتم. حسين ورته وليکل چې بهترين امان د خدای امان دی؛ که دې په ښه نيت ليک راته ليکلی او لېږلی وي خدای دې ستاسره ښه وکړي. هغه کتاب ص ص ۲۹۷۲-۷۳

له حسين سره کوفې ته په تللو کې منطق څشي وه؟ ايا ده ته د قرآن شريف دا آية نه وو معلوم چې د حق متعال، د هغه د رسول او اولی الامر اطاعت وکړی؟ د دې آية يو حکمت د مسلمانانو ترمنځ د داخلي جنګونو او ورورژني مخنيوی دی. ځکه له پاچا سره جنګ پيل کول او له هغه څخه ميدان ګټل او نسکورول د زرهاوو او لس هاوو زرو کسانو په مرګ تماميږي. ده مخکې ليدلي وه چې د جمل، صفين او له خوارجو سره په جنګونو کې تر سل زره زيات مسلمانان ووژل سول. آيا يوازي د کوفې خلک، چې که هغوی هم ټول د ده ملاتړ وکړي، د يزيد په څېر مقتدر پاچا سره، چې له مصر څخه تر خراسان پوري يې قلمرو رسېدی، په جنګونو کې به څومره مسلمانان هلاک سي او که چيري بری هم د ده په برخه سي نو په نتيجه کې به د يزيد پر ځای دی د اسلام خليفه وي او بس.
عبدالله بن عمر، د يوه پرهېزګار انسان په حيث، ځان له هر ډول فتنو څخه ساتلی وو او حسين ته يې هم توصيه کړې وه چې په اسلام کې نفاق مه اچوی. هغه پوهېدی چې عبدالله بن زبير او حسين يوازې د قدرت نيولو په غم کې دي او په زرګونو مسلمانان به د دوی د دغې غوښتنې او قدرت طلبۍ قرباني کيږي.
« عبدالله بن عباس بن ابوطالب حسين ته وويل د کاکا زويه! خلکو اوازه ګډه کړې ده چې ته کوفې ته ځې راته ووايه چې هلته به څه وکړې؟
حسين ورته وويل کوفې ته مې د تګ اراده کړې ده انشاءالله په همدغه دوو ورځو کې حرکت کوم.
ابن عباس ورته وويل: خدای دې تا له دې سفر څخه محفوظ کړي. خدای دې پر تا باندې رحمت وکړي. دونه راته ووايه چې ته خو کوفې ته روان يې آيا د هغه ځای خلکو ته چې ته ورځې هغوی خپل حاکم وژلی دی او ولايت يې


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

تصرف کړی دی او خپل دښمنان یې له هغه ځایه شړلي دي؟ که خبره داسي وي نو هغه ځای ته ولاړ سه او که دا خلک تا ور غواړي او د یزید حاکم هلته پر ځای ناست او پر قوم باندي مسلط دی او د هغه سړي له خلکو څخه منظم مالیات ټولوی نو دا خلک تا د جنګ او عداوت لپاره وربولي. زه وېرېږم چي دا خلک به دي وغولوي؛ ستا دعوه به دروغ وبولي او پر ضد به دي ودریږي او همدا خلک به دي تر هر چا سخت دښمنان وي. حسین ورته وویل زه له خدایه خیر غواړم. وګورم چي څه پیښیږي» هغه کتاب ص ۲۹۶۵

کله چي حسین له مکي څخه د کوفي پر لور حرکت وکړ نو د مکي د حاکم عمرو بن سعید بن عاص کسانو یې، چي مشري یې یحیی بن سعید کوله، د هغه مخه ونیوله خو حسین مقاومت ورسره وکړ او د هغوی له صفوفو څخه تېر سو. یحیی بن سعید ورپسي ږغ کړه چي اي حسینه! له خدایه نه بېرېږې چي له جماعت څخه وزې او په اسلام کي تفرقه اچوې؟

حسین په جواب کي د قرآن شریف آیة ورته ولووست.

لِی عملی و لکم عملکم انتم بریون ممّا اعمل و انا برئٌ مما تعملون. سوره یونس آیة ۴۱

( زما عمل زما دی او ستاسي عمل ستاسي دی. تاسي زما له عمل څخه بېزاریاست او زه ستاسي له عمل څخه بېزاره یم) هغه کتاب ص ۲۹۶۸

البته حسین د هغه قرآن شریف په آیة استناد او په هغه آیة تمسک کاوه چي مسلمانان یې د فتني او فساد څخه منع کول او د نفاق اچوونکي او فساد جوړوونکي وژل یې مباح کړي وه. او حسین پخپله د یوه بل داخلي جنګ پیل کولو ته روان وو.

د کوفي حاکم عبیدالله بن زیاد چي، د حسین د کاکا د زوی مسلم بن عقیل د وژلو څخه مخکي یې هم د کوفي او سیمي له قومي مشرانو سره تماسونه ټینګ کړي او پیسي یې ورکړي وي، یو ځل بیا د کوفي قومي مشران ور وبلل. نه یوازي یې د یزید لپاره بیعتونه ورڅخه واخیستل بلکه د حسین په مقابل کي یې د توري اخیستلو ته تشویق کړل.

عبیدالله بن زیاد خپل دوه تنه جنرالان عمر بن سعد بن ابی وقاص او شمر بن ذی الجوشن، د څلور زره سپرو سره، د حسین سره د جنګ او د هغه د وژلو یا کوفي ته د راوستلو لپاره واستول. کله چي عمر بن سعد د حسین د لښکرو خواته نیژدې سو نو له هغه څخه یې پوښتنه وکړه چي د څشي لپاره راغلی دی. حسین ورته وویل چي هغه ته د کوفي خلکو بلنه ورکړې ده او که د کوفي خلک نه غواړي چي دی هغه ښار ته ورسي نو بېرته پر هغه خوا چي راغلی دی ځي. حسین بالاخره د عبیدالله بن زیاد افسرانو ته وویل چي هغه ته یا اجازه ورکړي چي بېرته د مکي خواته ولاړ سي. یا اجازه ورکړي چي پخپله له یزید سره د لیدلو لپاره دمشق ته ولاړ سي او یا اجازه ورکړي چي سرحدي سیمو ته ولاړ سي او هلته ژوند وکړي. عبیدالله بن زیاد د هغه غوښتني رد کړې او یوازي کوفي ته د تللو او هلته د عبیدالله پر لاس یزید ته د بیعت کولو شرط یې ورته کېښېښود.

حسین د عبیدالله بن زیاد پیشنهاد نه سو منلای او د مسلم بن عقیل ورونو هم ویل چي تر څو یې د خپل ورور د وژل کېدلو انتقام اخیستی نه وي تر هغه وخته به پر شا نه سي. البته له هغوی سره ګواکي دا حساب نه وو چي د څلورزره کسیز لښکرسره په کوم قوت جګړه کوي. بالاخره د کوفي لښکرو هجوم راووړ او د جنګ په نتیجه کي حسین او د هغه ملګري ووژل سول. د حسین سر یې پرې کړ؛ عبیدالله بن زیاد ته یې واستاوه او هغه د نورو مشرانو له سرونو سره یو ځای یزید ته ولېږی.

په هغه جنګ کي، چي د محرم د میاشتي په لسمه پای ته ورسېدی د حسین له خوا، د ماشومانو په شمول، ۸۷ تنه او د عمر بن سعد بن ابی وقاص له خوا ۸۸ تنه ووژل سول. مسعودی، مروج الذهب جلد دوم ص ۶۵

که په دې جنګ کي د وژل سویو کسانو شمېر ته وګورو نو د مخکنیو او تر دې وروسته جنګونو په پرتله ډېر زیات نه دي؛ خو د حسین له وژل کېدلو سره داسي هنګامه پیل سوه چي کلونه یې دوام وکړ او په لس هاوو زره تنه پکښي قتل سول. د دې جنګ، چي د حسین د کورنی او د هغه د نیژدې خپلوانو په قتلېدلو تمام سو، مخه یوازي حسین نیولای سوای. حسین لکه څرنګه چي د دې جنګ او د مقاومت د پیل کولو لپاره یې له لومړي سره هیڅ منطق نه درلودل؛ د جنګ د پیل کولو په ورځ یې هم هیڅ ډول حساب نه درلود. له حسین سره د جنګ په میدان کي ۳۲ سپاره او ۴۰ پیاده ملګري ول. طبري ص ۳۰۲۰

په هغه جنګ کي د علي شپږ زامن، حسین، عباس، جعفر، عبدالله، محمد او ابوبکر. د حسین درې زامن، علي، عبدالله، او د حسن درې زامن ابوبکر، عبدالله او قاسم او د علي د ورونو او جعفر او عقیل د کورنی نور غړي ووژل سول.

۷۲ تنه، یا د ځینو په قول ۸۵ تنه د یوه بشپړ مجهز لښکر سره جنګ کولای سي؟ که څه هم چي ابن خلدون وایي له حسین سره ۵۰۰ تنه سپاره او ۱۰۰ تنه پیاده ورسره وه او د جنګ په پای کي د حسین له خوا ۷۲ تنه ووژل سول. تاریخ ابن خلدون جلد دوم ص ۴۱

که دا وروستی عدد هم ومنو نو ۶۰۰ تنه د ۴۵۰۰ یا ۵۰۰۰ عسکرو سره د جنګ توان لري؟ او حسین ته دا آیة معلوم نه وو چي« و لاتلقوا بایدیکم الی التهلکة» په لوی لاس ځانونه د مرګ خولې ته مه ورکوی. سورة ۲ البقرة آیة ۱۹۵

که له احساساتو او له دې زیات و کم دیارلس سوه کلونو تبلیغاتو څخه تېر سو نو حسین خو نه یوازي د ستایلو نه دی بلکه، د قرآن شریف له احکامو څخه د سرغړوني او په یوه بې اساسه جګړه کي، د وژل سویو کسانو د قتلېدلو مسوول دی. حسین ته دا آیة معلوم وو چي « د الله، د هغه د رسول او د اولی الامر اطاعت وکړی او که مو چیري ترمنځ



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

اختلاف منځته راغی نو خپل اختلاف د الله کتاب او د هغه رسول ته راجع کړی. داستاسي لپاره خیردی او تر ټولو ښه نتیجه ورکوي» سورة النساء آية ۵۹

د حسین او یزید تر منځ خو هیڅ اختلاف نه وو راغلی ځکه چي حسین لا د یزید خلافت لیدلی نه وو او له بیعت ورکولو څخه مخکي یې له هغه سره د جنګ په نیت اقدامات پیل کړل. په دې حساب حسین، د قرآن کریم د حکم په اساس، د فساد او فتنې جوړولو مسوول دی. ده باید انتظار ایستلی وای. که چیري یزید د کفر او ګمراهی لاره اخیستې وای او دیني علماوو د هغه پر ضد د پاڅون فتوا ورکړې وای بیا نو ده د بغاوت کولو حق درلود. په داسي حال کي چي زموږ اسلامي مورخین او علماء، لکه د صفین او جمل د جنګونو په باره کي چي چوپ دي او تر اوسه یې سم قضاوت نه دی کړی، د حسین او یزید او وروسته، په همدغه اړه، د نورو جنګونو په باب، چي په زرګونو مسلمانان پکښی قتل سول چوپ دي.

په صحیح بخاري کي په دې باب څو پرله پسې احادیث راغلي دي او د هغوی احکام دومره څرګند دي چي سړی یې په مقابل کي د حرکت کولو لپاره هیڅ ډول پلمه نه سي جوړولای.

د صحیح بخاري د کتاب الفتن ۷۰۵۳ حدیث کي راغلي دي:« هر هغه څوک چي د خپل امیر سره پر کوم شي اختلاف ولري نو باید چي صبر وکړي؛ ځکه هر هغه څوک چي له اطاعت کولو څخه سرغړونه کوي، حتی که ډېره لږه هم وي، نو هغه سړی به د هغو کسانو په څېر مري لکه د جاهلیه په وخت کي چي مړه سوي دي»

د همدغه کتاب الفتن په ۷۰۵۵ او ۷۰۵۶ حدیث کي راغلي دي:

«له جُناده بن ابی اُمیه څخه نقل سوی دی چي ..... پیغمبرص وویل چي موږ باید اوامرو ته هم د فعالیت او هم د ستړتیا په وخت کي، هم په سختیو کي او هم په کراري کي غوږ ونیسو او د امیر اطاعت وکړو. موږ باید د امیر حق پر ځای کړو که څه هم چي هغه زموږ حق نه راکوي او د هغه سره به تر هغه وخته پوري نه جنګېږو تر څو له هغه مو څرګند کفر لیدلی نه وي او هغه موږ ته ثابت سوی نه وي»

د صحیح مسلم په کتاب الامارة کي ۴۵۵۴ حدیث د څو سلسلو په اساس د حذیفه بن الیمن په حواله وایی چي حضرت پیغمبرص وویل داسي مشران به راسي چي زما پر لاره به برابر نه وي. په دوی کي به داسی کسان وي چي زړونه به یې د شیطان او مخونه به یې د انسانانو وي. ابوحُذیفه وایی ما سوال ورڅخه وکړ چي موږ باید په هغه وخت کي څه وکړو؟ پیغمبرص راته وویل چي تاسي باید امیر ته غوږ ونیسی او د هغوی د امر اطاعت وکړی. حتی که تاسي پر ملا باندي په شلاقو ووهي او ستاسي مالونه درڅخه لوټ کړي تاسي به هغوی ته غوږ نیسی او په قول به یې کوی.

ورپسې حدیث ۴۵۵۵ د ابوهُریره له قوله وایی چي پیغمبرص وویل هر هغه څوک چي د امیر اطاعت نه کوي او ځان د نورو مسلمانانو له اجتماع څخه بېل کړي؛ که مړ سو نو مرګ به یې د هغو کسانو په څېر وي چي په جاهلیه کي مړه سوي دي.

د همدغه کتاب الاماره په ۴۵۵۱ حدیث کي د علقمه له قوله روایت سوی دی چي وایی سلامه بن یزید الجوافی د پیغمبرص څخه پوښتنه وکړه چي که یو امیر زموږ په مقابل کي خپل مسوولیتونه نه اجراء کوي موږ له هغه سره څه وکړو؟ حضرت پیغمبرص جواب ورنه کړ او کله چي هغه خپل سوال دریم ځل تکرار کړ نو پیغمبرص ورته وویل چي تاسي هغوی ته غوږ ونیسی او اطاعت یې وکړی ځکه چي تاسي خپل بار وړی او خپل مسوولیت لری او هغوی خپل بار وړي.

د صحیح مسلم د کتاب الإماره ۴۵۶۲ حدیث کي راغلي دي چي عبدالله بن عمرو د یزید بن معاویه په وخت کي، چي د مدینې پر مسلمانانو باندي ډېر ظلم کېدی، وویل چي زه تاسي ته یو حدیث وایم او هغه دا چي حضرت پیغمبرص وویل هر هغه څوک چي خپل لاس د امیر له بیعت څخه کاږي د قیامت په ورځ به د الله په حضور کي هیڅ عذر او پلمه ونه لري. او هر هغه څوک چي له امیر سره یې بیعت نه وي کړی او مړسي هغه به د جاهلیت د زمانې د کفارو په څېر مري.

احمد کسروي د حسین بن علی په باره کي لیکي:

« حسین بن علی د خلافت د ترلاسه کولو لپاره راپورته سو او هدف ته ونه رسېدی. مګر ډېره د ستاینې وړ مړانه یې وکړه او هغه دا چي سر یې چاته ټیټ نه کړ او تر دې چي ابن زیاد او یزید ته تسلیم سي د خپل ځان، اولادونو او یارانو وژل کېدل یې بهتر وبلل. د هغه دغه کار د ستاینې وړ دی. مګر هر څه چي وه هغه تېر سول. له هغې پېښی څخه ۱۳ سوه کاله وروسته ژړا څه معنا لري؟ او د محرم او صفر په میاشتو کي به دې جاهلانه نمایشونو ته سړی څه ووایي؟» شیعه ګري ص ۴۲

دا خبره به سمه او پر ځای وي چي حسین یو زړه ور سړی وو. مګر د کربلا جنګ نه په شرعي لحاظ جواز درلود او نه په نظامي لحاظ هوښیار اقدام وو. له یوې بشپړي پاچهی سره په څو سوو تنو مقابله له ځان وژني او په لوی لاس د خپلي کورنۍ د تباه کولو او په اسلام کي د یوه بل درز او نفاق ایجادولو پرته بل مفهوم نه درلود.

خبره د ا ده چي د معاویه او یزید د حکومتونو یا خلافتونو توپیر په څه کي وو. د حسین مشرورور حسن، چي تقریباً شل کاله مخکي په زهرو شهید سوی وو، معاویه ته بیعت کړی وو. حتماً به حسین هم بیعت کړی وي. که د امویانو حکومت غیرعادلانه او د هغه په مقابل کي پاڅون لازم وو نو حسین خو باید د معاویه د شل کلن خلافت په دوران کي خپل ږغ پورته کړی وای. او کله چي یې د معاویه د خلافت په وخت کي هیڅ ونه ویل نو د یزید د خلافت په



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

وخت کي د هغه د ړغ پورته کول او وسلې ته لاس اچول، خو پرته له دې چي سړی يې د خلافت او قدرت د تر لاسه کولو لپاره اقدام وبولي بل څه نه ورڅخه جوړيږي. او لکه مخکي چي مو د قرآن شريف او احاديثو په استناد وليکل؛ د حسين عمل په هر صورت غير شرعی وو او د زړه ورتيا پر ځای بايد د ماجراغوښتني نوم ورکړه سي.
د فتنې او ښوربښونو په مقابل کي د دومره څرګندو احکامو د موجوديت په صورت کي له حسين سره پرته له قدرت غوښتلو بله څه پلمه موجوده وه؟ حسين په دې نه وو خبر چي د مسلمان امير په مقابل کي بغاوت او د امير نافرماني حتی له کفر سره معادله بلله سوې ده او حضرت پيغمبرص ويلي وه چي که څوک په دغه مخالفت کي مړ سو مرګ به يې د جاهليه د کفارو په څېر وي؟ آيا حسين د يزيد د کفر ثبوت درلود؟ او دی په دې نه وو خبر چي يوازي د امير د کفر په صورت کي د ښوربښ کولو اجازه لري او بس؟
له دې پېښو سره سم عبدالله بن زبير چي، خپل ځانته د خلافت ګټلو په منظور يې، حسين د کوفې تللو ته تشويق کړی او د خپلي دعوې لپاره يې ميدان خالی کړی وو، په مکه کي د خلافت اعلان وکړ. د مدينې خلکو هم د يزيد له خوا ټاکل سوی حاکم او مروان بن حکم او د بن اميه د کورنۍ نور کسان له ښار څخه وايستل او يزيد له شام څخه د مدينې او مکې پر لور لښکر روان کړ. د مدينې څخه بهر د يزيد د لښکرو او د مدينې د قواوو ترمنځ په جنګونو کي څه باندي څلور زره تنه ووژل سول. او د مدينې خلک بيعت کولو ته مجبور سول.
د يزيد لښکرو وروسته د مکې پر ښار باندي حملې ته تياری وکړ. د يزيد د لښکرو قوماندان حُصين بن نُمَير، چي کله مکې ته ورسېدی، عبدالله بن زبير او مختار ثقفي کعبې ته پناه يوړه. د يزيد پوځي قوماندان پر ښار باندي د لويو ډبرو او نفتي موادو باران جوړ کړ. کعبه ونړېده او د ډېرو زياتو خلکو کورونو اور واخيست. ابن خلدون ص ۴۴
يزيد له دې وروستي جنګ څخه يوولس ورځي وروسته مړ سو. د هغه زوی معاويه بن يزيد هم، چي د پلار پر ځای خليفه سوی وو، شل ورځي او د ځينو رواياتو له مخي دوې مياشتي وروسته مړ سو. قدرت مروان بن حکم ته ورسېدی. دا وخت مختار ثقفی له مکې څخه کوفې ته ولاړ. کوفه يې ونيوله او د حسين د قاتلانو پر ضد يې عمليات پيل کړل. مختار د حسين قاتلان لکه شمربن ذی الجوشن، عمربن سعد بن ابی وقاص، عبيدالله بن زياد او نور ټول هغه کسان چي د حسين په قتلولو کي يې لاس درلود يو په يو له منځه يووړل، او نور يې هم له هيڅ ډول بېرحمی څخه مخ وانه ړاوه. خو د عبدالله بن زبير او د علي له زوی محمدبن الحنفيه سره يې ځکه اختلافات راغلل چي مختارثقفي، په حقيقت کي، هر څه د ځان لپاره غوښتل او د حسين د وينو انتقام يې يوازي د پاڅون پلمه ګرځولې وه.
هم محمدبن حنفيه او هم عبدالله بن زبير پوهېدی چي مختار څه غواړي ځکه يې جوړه سره رانغله او تر پايه يو د بل مخالف پاته سول. محمدبن حنفيه، چي په فوکلوري افسانو، په تېره بيا د شيعه ګانو په نکلونو کي يې د ډېر لوی سپه سالار په حيث يادونه کيږي، چنداني په جنګونو کي برخه وانه خيستله او د عمر ترپايه پوري ګوښه پاته سو. له يوې خوا د مختار او عبدالله ابن زبير او بل لوري ته د مختار او مروان بن الحکم تر منځ په جنګونو کي په زرهاوو مسلمانان قتل سول او پخپله مختار هم، په کوفه کي، د عبدالله بن زبير له لښکرو سره، په جنګونو کي ووژل سو.
د مروان بن الحکم له وفات څخه وروسته د هغه زوی عبدالملک بن مروان د حجاج بن يوسف تر قوماندې لاندي، د عبدالله بن زبير د اېلولو لپاره، چي زيات و کم نهه کاله يې په مکه کي د اسلام د خليفه په نوم حکومت کړی وو، مکې ته پوځ واستاوه. عبدالله بن زبير د حجاج په مقابل کي له څو مياشتو مقاومت کولو وروسته په جنګ کي ووژل سو. ويل کيږي چي د حجاج بن يوسف قوماندان مصعب بن زبير د عبدالله بن زبير شپږزره تنه تسليم سوي پوځيان قتل عام کړل. ابن خلدون ص ۶۶
له دې څخه وروسته، د مسلمانانو تر منځ په جنګونو کي، چي يا د عقايدو د اختلاف او يا د شخصي ګټو لپاره وسول، او په قرنونو يې دوام وکړ، په سل هاوو زره مسلمانان قتل سول؛ ورونو ورونه او زامنو پلرونه ووژل خو اصلي مسوول هيڅ وخت څرګند نه سو. شاعرانو فاتحينو ته قصيدې وليکلې، هنرمندانو او سندرغاړو سندري او ترانې ورته جوړی کړې او علماوو يې د ستايلو او تاييدولو د فتواوو له برکته طلاوي او مقامونه تر لاسه کړل.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاریَ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ